مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکترمحب زغم ۲۰۲۳/۰۳/۰۳

پېړۍ په شپېو کې

«د فکر او فرهنګ سرلاري» هغه لړۍ ده چې د پېړیو خبرې درته په شپېو کې کوي.
په دې لړۍ کې استاد نجیب منلی له هومر، ارستو او سوکرات رانیولې تر فروید، اینشتین او پاچا خانه پورې د سیمې او نړۍ لوی مفکران درپېژني، د دوی پر کړیو کارونو، اثارو، مفکورو او هلو ځلو بحث کوي او په داسې ژبه معلومات درکوي چې ټولو ته د پوهېدا وړ وي. د دوی هر مخاطب د دوی په خبرو پوهېدای شي او خوند ځنې اخیستی شي ان که نالوستي وي او یا د پوهنتون د استاد په کچه تعلیم ولري.
فکر کوم دا به لومړی ځل وي چې د نړۍ د هغو پوهانو په اړه په پښتو ژبه د لومړي لاس معلومات تر لاسه کوو چې د بشر پر فکر یې ژور اغېز ښندلی او د تمدن په پرمختګ کې یې اساسي رول ادا کړی دی. دې بحثونو ته تیاری له ستونزو خالي نه و. عمده ستونزه معلوماتو ته د لاسرسی وه. استاد نجیب منلی د ډېرو بحثونو لپاره مجبور شوی له انټرنټه او په تېره بیا له ویکیپیډیا کار واخلي او هلته د انګلیسي، فرانسوي او پارسي ژبو معلومات سره پرتله کړي چې له یوې خوا د معلوماتو دقت یقیني شي او له بلې خوا معلومات غني شي. البته دا بحثونه د آزادي راډیو فرهنګي مجلې ته چمتو شوي او هدف یې دا و چې عامو اورېدونکو ته آفاقي معلومات ورکړي نو باید د اکاډمیک ماخذ په سترګه ورته ونه کتل شي خو زموږ پوهنتوني کهول د خپلو څېړنو لپاره په کې نوې خبرې موندلای شي چې د هغو پر اساس نورې پلټنې وکړي.
دا بحثونه په دې دلیلونو زیات اهمیت لري:
یو؛ د داسې سرلارو په اړه هم معلومات راکوي چې زموږ په هېواد کې یې ممکن ډېر لږ کسان وپېژني خو پېژندل یې ضروري دي. ما چالز ببج او پنیني د همدې خپرونو په برکت وپېژندل. د دکارت، بېکن، مولانا ابوالکلام آزاد او کانفسیوس مې یوازې نومونه اورېدلي وو خو دلته ورسره نور هم بلد شوم. حکیم عمر خیام مې یوازې د ښو رباعیاتو او باغي فکر شاعر باله خو اوس په ساینس، ریاضیاتو او نجوم کې د هغه په کمالونو هم خبر شوم.
دوه؛ که د هغو نامتو اشخاصو په اړه خبرې کېږي چې ښایي ډېر خلک یې پېژني او کم یا زیات معلومات یې په اړه لري، بیا هم د دې بحثونو معلومات به ورته نوي ښکاره شي. ځکه چې استاد منلی یوازې معلومات نه وړاندې کوي؛ بلکې هر څه تحلیلوي، ساده کوي یې او په اسانه ژبه یې له نویو مثالونو او بېلګو سره بیانوي. ما کلونه پخوا د اینشتین د نسبیت د تیورۍ په اړه لوستي وو خو سر مې پرې نه و خلاص شوی، مګر کله مې چې د استاد منلي له خولې واورېده، پرې پوه شوم. همدارنګه د فروید اروا پوهنه ممکن ډېرو ته سخته وي خو دا بحثونه یې ورته اسانوي.
درې؛ دلته د مفکرانو کارونو او افکارو ته په تنقیدي نظر کتل کېږي. د هر چا د لارې او مفکورې مثبت او منفي خواوې هم مهاله بیانېږي او اورېدونکو ته دا خبره کوي چې کامل انسان نشته؛ بلکې هر څوک ان که نابغه هم وي، ممکن ځینې خامې ولري او کارونه یې ممکن نیمګړي وي. په دې توګه مو پوهوي چې هر څه به د کاڼي کرښه نه ګڼو او خپل فکر به هم ورسره جنګوو.
څلور؛ ځینې ناسمې خبرې هغومره مشهورې شوې دي چې ان زموږ هغه پوه کسان هم دا مشهور غطلونه منلي دي. ممکن تاسو د ډېرو له خولې اورېدلي وي چې «جاپان او افغانستان په یوه ورځ خپله خپلواکۍ واخیسته، اوس جاپان وګورئ چې چېرته دی او افغانستان وګورئ». حال دا چې دا خبره هېڅ بنیاد نه لري. همداسې د ګالیلو په اړه مو اورېدلي وو: «دی په دې ګناه اعدام شو چې ځمکه یې کروي بلله خو کلیسا ویله هواره ده. نو، ګالیلو یې په دار پورته کړ خو ده د دار پر سر هم د پښې په ګوتې پر ځمکه دایره وکښله، مانا دا چې ځمکه کروي ده». خو استاد منلی د ګالیلو واقعي کیسه راته کوي چې دی د خپلې هغې نظریې په خاطر محاکمه شو چې ویل یې ځمکه تر لمر راڅرخي. کلیسا باور درلود چې ځمکه د کایناتو او هستۍ مرکز دی او لمر تر ځمکې تاوېږي. خو، ګالیلو مجبور شو د سر د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ساتنې په خاطر، خپله ادعا رد کړي. د دې محاکمې په اړه هم بل روایت دا دی چې ده په خوله وویل ځمکه ساکنه ده خو د ګوتو په ښورولو یې وویل: «مګر ښوري». استاد منلی دا ادعا هم ځکه بې بنسټه بولي چې که ده داسې ویلي وای، کلیسا به اور ته اچولی و.
پنځه؛ دا بحثونه د واقع بینۍ په فضا کې له احساساتو لرې شوي دي. موږ معمولاً له علمي مسایلو سره عاطفي چلند کوو. هغه کسان خورا زیات لویوو چې ورسره د ویني، دین، مذهب یا سیمې رابطه لرو او ان د دوی عیبونه پټوو یا یې عیبونه توجیه کوو. برعکس هغه کسان چې راباندې ښه نه لګېږي، تک تور ښییو او له کمالونو یې انکار کوو. خو دلته له مسایلو سره منطقي علمي چلند کېږي. استاد منلی د خان عبدالغفار خان، خوشحال خان خټک، ابن سینا او زموږ نورو خپلو په اړه هماغسې بحث کوي چې د غربي نړۍ د نوموتو په اړه یې کوي. فکر کوم دا پخپله یو درس دی چې باید یې زده کړو.
شپږ؛ دا خپروني د مونولوګ بڼه نه لري بلکې واقعي بحثونه دي. استاد غضنفر چې د خپرونو کوربه دی، یوازې د پوښتنو مطرح کوونکی نه دی بلکې د بحثونو تکمیلوونکی دی. دی په ځینو موردونو کې مفاهیم لا ساده کوي، د بحث نتیجه راباسي او اضافي معلومات ورکوي او یو نیم ځای کې ان مخالفت هم کوي او خپل دلیل وړاندې کوي.
اووه؛ موږ ته داسې څوک معلومات راکوي چې پخپله د بحث پر موضوعاتو ډېر ښه پوهېدلي دي. زموږ یو عیب دا دی چې که په یوې موضوع کې څه نا څه معلومات پیدا کړو، فکر کوو چې پرې وپوهېدو او ډېر ځله خو معلومات یوازې حفظ کوو او بیا یې د طوطي په شان نورو ته وایو. خو دلته به داسې څه وانه ورئ.
اته؛ استاد منلي پوره خواري کړې ده او کافي معلومات یې راټول کړي دي. کله چې یو مفکر معرفي کوي، د هغه د زماني، هېواد او چاپیریال په اړه معلومات راکوي ځکه دا ټول د یو چا د فکر په جوړولو کې نقش لري. همدارنګه د هرې موضوع تاریخي بهیر
څېړي. مثلاً کله چې د ډاروین د نظریې په اړه خبرې کوي، د خلقت او تکامل په اړه تر ده مخکې ټولې مطرح شوې مهمې نظریې راسپړي، بیانوي یې او بیا ډاروین ته ځان رسوي. دا کار ډېر زحمت، زیاته مطالعه او ډېر وخت غواړي. که زه وغواړم همداسې یو بحث ته ځان چمتو کړم، باید لږ تر لږه پنځه – شپږ میاشتې مطالعه وکړم، هغه هم خدای خبر چې وبه یې کړای شم که نه. خو، استاد منلي به په هره اوونۍ کې یوه بحث ته ځان تیاراوه.
دا بحثونه چې د پېړیو خبرې په شېبه کې کوي، په وار وار اورېدو ارزي او ډېر څه رازده کوي. د استاد نجیب منلي او ازادي راډیو دې کور ودان وي چې ټولنې ته یې دومره مهمه او ګټوره ډالۍ ورکړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ